# د مصنوعي ځیرکتیا د پوهاوي وسایل
# د کورنیو پیاوړتیا ترځو په ګډه مصنوعي ځیرکتیا وپلټي



## د وسایلو عمومي کتنه

مصنوعي ځیرکتیا (AI) زموږ د ماشومانو د نړۍ بڼه بدلوي، له هغو ویډیوګانو څخه نیولې چې دوی یې ګوري بیا تر هغو وسایلو پورې چې دوی یې په ښوونځي کې کاروي. د وسایلو دا ټولګه د دې لپاره طرحه شوې ده چې کورنیو او ښوونکو سره مرسته وکړي څو د مصنوعي ځیرکتیا په اړه فکري او د عمر له پلوه مناسبې خبرې اترې ولري، او هغه مهارتونه رامنځته کړي چې ماشومان یې ورځ تر بلې په ډیجیټلي کېدونکې نړۍ کې ورته اړتیا لري.

## د دې وسایلو ټولګې موخه

- کورنۍ ته دا وړتیا ورکول چې د مصنوعي ځیرکتیا په اړه رښتیني او د پوښتنو پر بنسټ خبرې اترې ولري.
- د لوبې، نوښت او تفکر له لارې د مصنوعي ځیرکتیا مفاهیمو د پېژندلو لپاره فعالیتونه او نظرونه وړاندې کول.
- ښوونځي او ښوونکي د اړیکو له وسایلو او تګلارو باندې سمبالول، تر څو مصنوعي ځیرکتیا د هرچا اړوند او د عمر له پلوه مناسبو لارو له مخې معرفي کړي.
- د ځوانو زدهکوونکو هڅول چې مصنوعي ځیرکتیا په مسوولانه، اخلاقي او عادلانه ډول وکاروي.

که تاسې د یوه کنجکاو وړکتوني ماشوم مور یا پلار یاست، او یا که د ښوونځي یو مشر یاست چې د ټولنې د اړیکو پلان جوړوئ، نو د وسایلو دا ټولګه د هر چا لپاره یو څه لري.

راځئ چې راتلونکی په ګډه وپلټو!



# د والدینو لپاره د فعالیت لارښود
# له خپلو ماشومانو سره د مصنوعي ځیرکتیا په اړه خبرې کول

## دا لارښود څنګه وکاروئ

1. **ویډیو** وګورئ.
2. د مصنوعي ځیرکتیاړوند بحثونو کې د خپل ماشوم د ښکیلولو لپاره **کارتونه وکاروئ.** د خپلې مرجع لپاره ممکنه ځوابونه وګورئ.
3. **هڅه وکړئ فعالیتونه ترسره کړئ.**
4. **د کورنۍ په توګه د ټیکنالوژۍ کارولو لپاره پلان جوړ کړئ!**

## د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې

✔ سم یا ناسم ځوابونه نشته — ماشومانو ته اجازه ورکړئ چې خپل فکرونه په ازاد ډول شریک کړي.

✔ خپل ځوابونه هم شریک کړئ! ماشومان دا خوښوي چې د لویانو نظرونه واوري.

✔ په لارښود کې راغلي لغاتونه وکاروئ تر څو ستونزمنې کلمې لکه "تعصب" او "الګوریتم" تشریح کړئ.

✔ تعقیبي پوښتنو ته یې وهڅوئ لکه "ولې داسې وایې؟" یا "کولای شې نور راته ووایې؟"

✔ تاسې اړ نه یاست چې په ترتیب لاړ شئ — هغه پوښتنې انتخاب چې ستاسو د ماشوم د لېوالتیا سره سمون لري.

## ولې مصنوعي ځیرکتیا ستاسو د ماشوم لپاره مهمه ده

مصنوعي ځیرکتیا هر ځای شته — د یوټیوب سپارښتنو څخه نیولې تر مجازی مرستیالانو لکه Siri او Alexa پورې په دې پوهېدل چې مصنوعي ځیرکتیا څنګه کار کوي، دا زموږ سره مرسته کوي چې خپل ماشومانو ته د ټکنالوژۍ په هوښیار کارولو کې سمې لارښوونې وکړو. د فعالیت دا لارښود له خپل ماشوم سره د مصنوعي ځیرکتیا مفاهیمو د سپړلو لپاره ساده او عملي لارې وړاندې کوي او په همدې ترڅ کې مانا لرونکې خبرې اترې رامینځته کوي.



# د خبرو اترو کارتونه
# څنګه وکاروئ



## د خبرو اترو کارتونه څه دي؟

دا کارتونه د دې لپاره طرحه شوي دي چې له خپل ماشوم سره د مصنوعي ځيرکتيا (AI) په اړه خوځنده، خوندورې او فکري خبرې اترې رامنځته کړي.
هر کارت يوه پوښتنه لري چې تجسس، انتقادي فکر او نوښت ته بلنه ورکوي. تاسو به د بحث د لاربښوونې يا غځولو لپاره د ځوابونو مثالونه هم ومومئ.

## موخه

دا کارتونه د مصنوعي ځيرکتيا د ښوولو لپاره نه دي، بلکې د هغې په اړه د خبرو اترو لپاره دي. موخه دا ده چې په ګډه پوښتنه رامنځته کړو او داسې ځای برابر کړو چې د ټکنالوژۍ د رول په اړه ستاسو د ماشوم په ژوند کې فکري خبرې اترې وشي.

## ولې يې وکاروو؟

د مصنوعي ځيرکتيا په اړه اوس خبرې کول له ماشومانو سره مرسته کوي چې د ټکنالوژۍ په اړه لا ډېر فکر وکړي او په مسوولانه توګه يې وکاروي.



## کله او چېرې يې وکاروو

- د خوړو پر وخت
- د ټګ راټګ يا انتظار پرمهال
- د خوب له وخت مخکې د تفکر لپاره
- د ګرځېدو پر مهال يا د ټکنالوژۍ پرته شپېو کې
- حتی په ډلهییزو شپېو کې لکه د کورنی د لوبو شپه

# د خبرو اترو کارتونه

1. تاسو په خپل ورځني ژوند کې کله له مصنوعي ځیرکتیا څخه کار اخلئ؟

2. مصنوعي ځیرکتیا له معلوماتو څخه زده کړه کولای شي. ستا په اند دا څه معنا لري؟

3. ایا کله مو پام شوی چې یو اپلکېشن داسې ښکاري لکه ستاسې خوښه چې پېژني؟

4. ایا کله دې د څه شي د جوړولو لپاره مصنوعي ځیرکتیا کارولې ده، لکه لیکنه، انځورونه یا موسیقي؟

5. ایا ته به پر یو بې موټروانه موټر باور وکړې چې تا به یوځای ته ورسوي؟ ولې یا ولې نه؟

6. ایا مصنوعي ځیرکتیا د انسانانو په څېر نوښتګر کېدای شي؟

# د خبرو اترو کارتونه

7. ایا مصنوعي ځیرکتیا تېروتني کولی شي؟

ایا کله دې د مصنوعي ځیرکتیا تېروتنه لیدلې ده؟

common sense media

8. ایا ته فکر کوې چې مصنوعي ځیرکتیا احساسات لرلای شي؟ ولې یا ولې نه؟

common sense media

9.ستا په اند مصنوعي ځیرکتیا به په راتلونکي کې دندې څنګه بدلې کړي؟

common sense media

10. ایا مصنوعي ځیرکتیا تل عادلانه ده؟ مصنوعي ځیرکتیا څنګه تعصب لرلای شي؟

common sense media

11. مصنوعي ځیرکتیا تر ټولو ښه کار څه کولی شي؟

common sense media

12. ستا په اند مصنوعي ځیرکتیا به په 10 کلونو کې څه وکړي؟

common sense media

# د خبرو اترو د کارتونو احتمالي ځوابونه

**د خبرو اترو کارت 1:** په ورځني ژوند کې مصنوعي ځیرکتیا
**پوښتنه:** ستا په اند ته به هره ورځ څه وخت له مصنوعي ځیرکتیا څخه کار واخلې؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "کله چې زه له Siri یا Alexa څخه پوښتنه کوم."
- "کله چې زه په ټکټاک یا یوټیوب کې ګرځم، هغه راته داسې ویډیوګانې ښیې چې ښایي زما خوښې وي."

---

**د خبرو اترو کارت 2:** مصنوعي ځیرکتیا او زده کړه
**پوښتنه:** مصنوعي ځیرکتیا له معلوماتو څخه زده کړه کولی شي. ستا په اند دا څه معنا لري؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "مصنوعي ځیرکتیا ډیرې مثالونه ګوري او د هغوی بنې معلوموي، لکه څنګه چې زما د خوښې په اپلکېشنونو پوهیږي چې زه څه خوښوم."
- "دا هغه څه په یاد ساتي چې خلک په انلاین ډول څه کوي او هماغه د دې لپاره کاروي چې اټکل وکړي موږ څه غواړو."

---

**د خبرو اترو کارت 3:** د مصنوعي ځیرکتیا وړاندوینې
**پوښتنه:** ایا تاسو کله هم لیدلي دي چې یو اپلیکیشن داسې ښکاري چې "پوهیږي" چې تاسو څه خوښوئ؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "هو! یوټیوب تل زما د خوښې لوبې په اړه ویډیوګانې وړاندیز کوي."
- "نیټ فلکس هغه فلمونه وړاندیز کوي چې زه ښایي خوند ترې واخلم، او معمولا سم وي!"
- "دا عجیبه وي کله چې د هغه شي اعلانونه راښکاره شي چې ما یې په اړه خبرې کړې وي."

---

**د خبرو اترو کارت 4:** تولیدوونکې مصنوعي ځیرکتیا
**پوښتنه:** آیا تاسو کله هم د یو څه (متن، انځورونو، موسیقۍ) جوړولو لپاره له مصنوعي ځیرکتیا څخه کار اخیستی دی؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "ما له چاټ جي پي ټي (ChatGPT) څخه وغوښتل چې زما لپاره یوه خندونکې کیسه ولیکي!"
- "ما د خپل انځور د کارټون په بدلولو کې د مصنوعي ځیرکتیا اپلیکیشن وکاراوه."
- "ما د مصنوعي ځیرکتیا یو موسیقۍ جوړوونکی وغږاوه، او هغه داسې سندره جوړه کړه چې ښه اواز یې درلود."

---

**د خبرو اترو کارت 5:** مصنوعي ځیرکتیا او پریکړه کول
**پوښتنه:** ایا ته به پر یو داسې بې موټروانه موټر باور ولرې چې تا یوځای ته ورسوي؟ ولې یا ولې نه؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "کېدای شي که ډېر خوندي وي، خو بیا هم غواړم چې د احتیاط لپاره سټیرینګ موجود وي!"
- "نه، ځکه که چیرې سیستم کې ستونزه پیدا شي یا یو څوک د سړک څخه تیریږي دی ونه ګوري نو څه به پېښ شي؟"
- "هو! کېدای شي مصنوعي ځیرکتیا له ځینو خلکو څخه هم ښه موټر وچلوي."

---

**د خبرو اترو کارت 6:** مصنوعي ځیرکتیا او نوښت
**پوښتنه:** ایا مصنوعي ځیرکتیا د انسانانو په څېر نوښتګر کېدای شي؟
**ممکنه ځوابونه:**

- "نه، ځکه چې احساسات یا اصلي نظریات نه لري."
- "کېدای شي... دا کولی شي شیان په نوو لارو سره یو ځای کړي، خو زموږ په څېر فکر نه کوي."
- "هو! "د مصنوعي ځیرکتیا له خوا جوړه شوې موسیقي او هنر ډېر په زړه پورې دي، که څه هم یو انسان باید ورسره مرسته وکړي."

# د خبرو اترو د کارتونو احتمالي ځوابونه

**د خبرو اترو کارت 7: مصنوعي ځيراکت او تېروتنې**

**پوښتنه:** ايا مصنوعي ځيرکتيا تېروتنې کولی شي؟ آيا تاسو کله هم د مصنوعي ځيرکتيا کومه تېروتنه ليدلې ده؟

**ممکنه ځوابونه:**

- "هو! زما د اتومات سمون وسيله هر وخت خندوونکې تېروتنې کوي."
- "ما وليدل چې کله چې مې له مصنوعي ځيرکتيا څخه يوه پوښتنه وکړه‌غې راته ناسم ځواب راکړ."
- "مصنوعي ځيرکتيا بشپړه نه ده—دا يوازې په هغه څه پوهېږي چې خلکو ور ښودلي وي او خلک هم کله ناکله غلطي کوي!"

---

**د خبرو اترو کارت 8: مصنوعي ځيرکتيا او احساسات**

**پوښتنه:** ايا تاسو فکر کوئ چې مصنوعي ځيرکتيا احساسات لرلای شي؟ ولې يا ولې نه؟

**ممکنه ځوابونه:**

- "نه، ځکه چې دا يوازې يو پروګرام دی - دا د خوښی يا خپګان احساس نه کوي."
- "مصنوعي ځيرکتيا کولی شي داسي تمثيل وکړي چې احساسات لري، خو دا ريښتني نه وي."
- "که مصنوعي ځيرکتيا د انسانانو څخه زده کړه کوي، نو ايا امکان لري چې فکر وکړي احساسات لري؟"

---

**د خبرو اترو کارت 9: مصنوعي ځيرکتيا او انساني دندې**

**پوښتنه:** تاسو څنګه فکر کوئ چې مصنوعي ځيرکتيا به په راتلونکي کې دندې بدلې کړي؟

**ممکنه ځوابونه:**

- "ځينې دندې ښايي له منځه ولاړې شي، لکه د خزانه دارانو يا موټرچلونکو دندې."
- "مصنوعي ځيرکتيا کېدای شي د ناروغيو په ژر پيژندلو کې له ډاکټرانو سره مرسته وکړي."
- "زه فکر کوم خلک به لا هم دندې ولري، خو د بدلېدو پر ځای به له مصنوعي ځيرکتيا سره يوځای کار کوي."

---

**د خبرو اترو کارت 10: مصنوعي ځيرکتيا او مساوات**

**پوښتنه:** ايا مصنوعي ځيرکتيا تل عادلانه ده؟ مصنوعي ځيرکتيا څنګه تعصب لرلای شي؟

**ممکنه ځوابونه:**

- "که چيرې مصنوعي ځيرکتيا له خرابو يا متعصبو معلوماتو څخه زده کړه وکړي، نو ناعادلانه کېدای شي."
- "که مصنوعي ځيرکتيا تر ډېره د يوې ډلې د خلکو پر تجربو وروزل شي، کېدای شي د نورو لپاره ښه کار ونه کړي."
- "موږ بايد مصنوعي ځيرکتيا ته هم د عدالت ښوونه وکړو، لکه څنګه چې خلکو ته يې ورزده کوو."

---

**د خبرو اترو کارت 11: مصنوعي ځيرکتيا او ساتېرى!**

**پوښتنه:** تر ټولو په زړه پورې کار کوم دی چې مصنوعي ځيرکتيا يې کولی شي؟

**ممکنه ځوابونه:**

"زه د مصنوعي ځيرکتيا له خوا جوړ شوي هنر سره ډېره مينه لرم — دا ډېر نوښتګر دی!"

"په ويډيويي لوبو کې د مصنوعي ځيرکتيا کرکټرونه ډېر ځيرک دي."

"زما په اند دا ډېر په زړه پورې ده چې مصنوعي ځيرکتيا کولی شي له تا سره د يو ريښتيني انسان په څېر خبرې وکړي!"

---

**د خبرو اترو کارت 12: په راتلونکي کې مصنوعي ځيرکتيا**

**پوښتنه:** تاسو څه فکر کوئ چې مصنوعي ځيرکتيا به په راتلونکو 10 کلونو کې څه وکولای شي؟

**ممکنه ځوابونه:**

" ښايي روباټونه به د کور ټول کارونه وکړي!"

"مصنوعي ځيرکتيا به په ښوونځيو کې وي او له زده‌کوونکو سره به د زده‌کړې په برخه کې مرسته کوي."

"هيله لرم مصنوعي ځيرکتيا هر څه په لاس کې وانخلي — موږ لا هم خلکو ته اړتيا لرو!"

## لومړی فعالیت: د مصنوعي ځیرکتیا موندنیزه لوبه

په خپل کور کې شاوخوا وګورئ او د مصنوعي ځیرکتیا د کار کولو پنځه بېلګې ومومئ.
دا بېلګې په ګډه ولیکئ یا یې رسم کړئ، او خبرې پرې وکړئ چې مصنوعي ځیرکتیا څنګه پرېکړې کوي.

**د والدینو لارښوونه:** دا تشریح کړئ چې مصنوعي ځیرکتیا د معلوماتو له بنو څخه زده کړه کوي.
**د مثال په ډول،** نیټ فلکس د هغه څه پراساس خپروني وړاندیز کوي چې تاسو مخکې لیدلي دي.
**پوښتنه وکړئ:** "ایا تاسو فکر کوئ چې مصنوعي ځیرکتیا تل هرڅه سم کوي؟"

## 2 فعالیت: مصنوعي ځیرکتیا او نوښت




له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې د خوبونو یوه نړۍ رسم کړي (لکه: "په فضا کې یوه ماڼۍ چې اژدها او روبوټونه لري"). د ChatGPT په څېر د مصنوعي ځیرکتیا له یوې وسیلې څخه کار واخلئ تر څو د هماغه لارښود پر بنسټ د مصنوعي ځیرکتیا له خوا جوړه شوې بڼه تولید کړئ.
دواړه انځورونه سره پرتله کړئ.

**د والدینو لارښوونه:** دا تشریح کړئ چې مصنوعي ځیرکتیا اصلي نظریات نه لري — دا یوازې هغه شیان سره ګډوي او یوځای کوي چې له معلوماتو څخه یې زده کړې دي.

# د فعالیتونو 1 او 2 نظریات ګام پر ګام لارښوونې

## 1. د مصنوعي ځیرکتیا موندنیزه لوبه

**موخه:** مصنوعي ځیرکتیا د ماشوم په ورځني چاپېریال کې ښکاره او د پوهېدو وړ ګرځول.



**ګام په ګام:**
په خپل کور کې وګرځئ او د مصنوعي ځیرکتیا د کار کولو 5 بېلګې ومومئ.

**ولټوئ:**
- ځیرک سپیکرونه (Siri یا Alexa)
- د سپارښتني سیستمونه (یوټیوب، نېټفلیکس، سپوټیفای)
- ځیرک وسایل یا د لوبو توکي

**له خپل ماشوم څخه وپوښتئ:**
- دا وسیله یا اپلیکیشن څه کار کوي؟
- ستا په اند دا څنګه پرېکړه کوي چې څه وښيي یا څه ووايي؟

**د بحث لپاره ټکی:** دا تشریح کړئ چې مصنوعي ځیرکتیا زموږ له چلند څخه (لکه هغه څه چې کلیک پرې کوو، ګورو یا وایو) زده کړه کوي تر څو پرېکړې وکړي. ځینې وختونه دا سم وي - او ځینې وختونه نه!

## 2. مصنوعي ځیرکتیا او نوښت

**موخه:** له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې د انسان لخوا جوړ شوي هنر د مصنوعي ځیرکتیا لخوا رامینځته شوي مینځپانګې سره پرتله کړي.
اړین توکي: کاغذ او د رسم وسایل، انټرنېټ ته لاسرسی، او د ChatGPT په څېر د مصنوعي ځیرکتیا د انځور جوړولو وسیله.



**ګام په ګام:**
1. له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې یوه خیالي نړۍ رسم کړي (لکه: "په فضا کې یوه ماڼۍ له اژدها او روبوټونو ډکې وي").
2. د مصنوعي ځیرکتیا د هنر یوه وسیله پرانیزئ او هماغه لارښود ولیکئ چې ستاسو ماشوم کارولی وي.
3. **دواړه انځورونه سره پرتله کړئ. پوښتنه وکړئ:**
   - ستا د رسم او د مصنوعي ځیرکتیا د انځور ترمنځ څه توپیر شته؟
   - کوم یو ډېر نوښتګر یا شخصي ښکاري؟ ولې؟
   - ایا ته فکر کوې چې مصنوعي ځیرکتیا پوهېږي چې څه رسموي؟

**د خبرو ټکی:** مصنوعي ځیرکتیا د هغو بڼو په یوځای کولو سره انځورونه جوړوي چې له موجودو انځورونو څخه یې زده کړي دي. دا زموږ په څېر نظرونه یا احساسات نه لري.

# د فعالیت نظریات

## 3 فعالیت: مصنوعي ځیرکتیا او وړاندوینې

لاندې د یوې مشهورې ټولنیزې رسنۍ د اپلیکېشن د هماغه کاروونکي د «اکسپلور پاڼې» دوه انځوریزې بېلګې ښودل شوې دي. ایا ته کولای شې توپیر لیدلای شئ او دا هم ووایې چې څه شی ښایي لامل شوی وي چې «مخکې» او «وروسته» داسې ښکاره شي؟

مخکې



وروسته



**د والدینو لپاره لارښوونه:** ماشومانو ته یادونه وکړئ چې مصنوعي ځیرکتیا له هغه څه زده کړه کوي چې دوی پرې کلیک کوي، نو له کلیک کولو مخکې فکر کول ډېر مهم دي. د رسنیو د توازن ته یې وهڅوئ او دا پوښتنه ورسره شریکه کړئ: *«ایا ته فکر کوې چې مصنوعي ځیرکتیا باید تل پریکړه وکړي چې موږ څه ووینو؟»*

## 4 فعالت: د مصنوعي ځیرکتیا د اټکل لوبه




یو حیوان په ذهن کې ونیسئ او ماشوم ته اجازه ورکړئ چې د "هو" یا "نه" پوښتنې وکړي تر څو هغه وپېژني.

له 5 تر 7 پوښتنو وروسته، وګورئ چې ایا هغوی کولی شي سم اټکل وکړي که نه.

دا تشریح کړئ چې مصنوعي ځیرکتیا هم په ورته ډول کار کوي — دا له معلوماتو زده کړه کوي او د وخت په تېرېدو سره ښه کېږي.

د والدینو لارښوونه: پر دې خبرې وکړئ چې مصنوعي ځیرکتیا د ډېرو معلوماتو په لرلو سره ښه کېږي، خو که بېلابېل او متنوع معلومات ونه لري، کېدای شي تعصب هم ولري.

# د فعالیت نظریات 3 او 4، ګام په ګام لارښوونې



## 3. مصنوعي ځيرکتيا او وړاندوينې

**موخه:**
له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې پوه شي مصنوعي ځيرکتيا څنګه د هغوی د انلاین چلند (لکه کلیکونه او لیدنې) کاروي تر څو هغه څه تنظیم کړي چې دوی يې ويني، په ځانګړي ډول په ټولنيزو رسنيو او پلټني اپلکېشنونو (لکه یوټیوب، نېټفليکس، هولو (Hulu)).

**ګام په ګام:**

- دا یادونه وکړئ چې دا د هماغه یو کاروونکي د پاڼې دوې بڼې دي — یوه د اپلکېشن د کارولو څخه مخکې او بله د اپلکېشن له کارولو وروسته.
- **وپوښتئ:** "ته د مخکې او وروسته ترمنځ کوم توپیرونه وينې؟" هغوی وهڅوئ چې د هغو انځورونو ډولونه تشريح کړي چې دوی يې په هر يوه کې ګوري، لکه سپورټ، شارکونه او حیوانات په مقابل کې کیکونه او رنګين خواږه توکي.
- **پوښتنه وکړئ:** "ستاسو په اند،چې کارونکي هغه څه بدلول غوره کړل چې دوی يې ويني يا دا پرېکړه مصنوعي ځيرکتيا وکړه؟"
- **پوښتنه وکړئ:** "ستاسو په اند، ولې دا بدلون راغلی؟" خپل ماشوم ته لارښوونه وکړئ چې فکر وکړي څنګه پر ځانګړي محتوا کليک کول يا پرې ډېر وخت تېرول کولای شي په راتلونکي کې هغه څه بدل کړي چې مصنوعي ځيرکتيا يې ورته ښيي.
- **پوښتنه وکړئ:** "که مصنوعي ځيرکتيا تل یوازې یو ډول محتوا درته وښيي، څه ستونزې رامنځته کېدای شي؟"

**د خبرو اترو لپاره ټکی:**
د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه لکه د سپارښتنې الګوريتمونه کېدای شي ګټور وي، خو که موږ پام و نه کړو، کولای شي زموږ د نړۍ ليد هم محدود کړي. مصنوعي ځيرکتيا پیاوړې ده، خو موږ باید په غور سره فکر وکړو او پوه شو چې دا زموږ انتخابونو ته څنګه بڼه ورکوي.

## 4. د مصنوعي ځيرکتيا د اټکل کولو لوبه

**موخه:** له خپل ماشوم سره مرسته کول چې پوه شي مصنوعي ځيرکتيا څنګه پوښتنې کوي او له معلوماتو زده کړه کوي.



**ګام په ګام:**

- يو حیوان په ذهن کې ونيسئ (خو نوم يې مه واياست).
- ماشوم ته اجازه ورکړئ چې د "هو/نه" پوښتنې وکړي ترڅو ويې پېژني (لکه: "ايا دا په سمندر کې ژوند کوي؟").
- له 5 تر 7 پوښتنو وروسته، هغوی ته اجازه ورکړئ چې اټکل وکړي.
- بيا نوبتونه سره بدل کړئ او ماشوم ته اجازه ورکړئ چې حیوان انتخاب کړي.

**د خبرو لپاره ټکی:** دا د مصنوعي ځيرکتيا د کار کولو له طريقې سره ورته دی، ځکه چې دا معلومات راټولوي، اټکلونه کوي، او د ډېرو معلوماتو په لرلو سره ښه کېږي. خو که معلومات محدود يا متعصب وي، نو ځوابونه يې ښايي سم يا عادلانه نه وي.



## 5 فعالیت: مصنوعي ځیرکتیا او هنر

د مصنوعي ځیرکتیا د هنر یا لیکلو له وسیلې څخه کار واخلئ (لکه ChatGPT یا د موسیقۍ لپاره SUNO). بیا ترې وغواړئ چې ارزونه یې وکړي: ایا پایله تخلیقي ده؟ دا د انساني خلاقیت څخه څنګه توپیر لري؟



**د والدینو لارښوونه:** خپل ماشوم وهڅوئ چې د نقاد او خلاق په څېر فکر وکړي. له هغوی څخه وپوښتئ چې د مصنوعي ځیرکتیا د تولید په اړه څه خوښوي یا څه نه خوښوي او دا څنګه د هغه څه سره پرتله کوي چې یو انسان یې جوړوي. هغوی ته یادونه وکړئ چې تخلیق یوازې د وروستي محصول په اړه نه دی، بلکې د هغې تر شا نظرونه، احساسات او ارادې هم دي.



## 6 فعالیت: مصنوعي ځیرکتیا او د ستونزو حل

د یوه داسې مصنوعي ځیرکتیا محصول مفکوره طرحه کړئ چې وکولای شي د ریښتیني نړۍ یوه ستونزه حل کړي (لکه د اقلیم بدلون، لاسرسي/معلولینو اسانتیاوې، یا رواني روغتیا).



**د والدینو لپاره لارښوونه:** له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې په خپلې ټولنې یا ورځني ژوند کې د ریښتینو ننګونو په اړه فکر وکړي، بیا ترې وپوښتئ: "مصنوعي ځیرکتیا څنګه کولای شي په دې کې مرسته وکړي؟" هغوی وهڅوئ چې لویې هیلې ولري، خو ورسره دا هم په پام کې ونیسي چې مصنوعي ځیرکتیا به کومو معلوماتو ته اړتیا ولري او کوم احتمالي خطرونه ښایي موجود وي.

# د فعالیت مفکورې 5 او 6، ګام په ګام لارښوونې



## 5. مصنوعي ځیرکتیا او هنر

**موخه:** دا وڅېړل شي چې خلاقیت څه معنا لري او مصنوعي ځیرکتیا څنګه د انساني نظرونو سره پرتله کېږي.
**اړین توکي:** د مصنوعي ځیرکتیا د لیکلو یا هنر وسیله (لکه ChatGPT یا د موسیقی لپاره SUNO).

**ګام په ګام:**

1. د مصنوعي ځیرکتیا له یوې وسیلې څخه کار واخلئ تر څو یو خلاقانه شی تولید کړي (لکه یو شعر، انځور، یا سندره).
2. پایله له خپل ماشوم سره یوځای وڅېړئ. پوښتنه وکړئ:
   - ستاسو په اند، مصنوعي ځیرکتیا څه ډول شی جوړ کړی دی؟
   - ایا دا خلاقانه ښکاري؟ ولې یا ولې نه؟
   - دا د هغه څه څخه څنګه توپیر لري چې یو انسان یې جوړ کړي؟

**د خبرو اترو ټکی:** په خلاقیت کې احساسات، تجربه او اراده شامل وي. دا هغه څه دي چې مصنوعي ځیرکتیا یې نه لري. خو بیا هم کولی شي د هغو نظرونو د بیا ترکیب له لارې په زړه پورې شیان جوړ کړي چې مخکې یې زده کړي دي.

---

## 6. مصنوعي ځیرکتیا او د ستونزو حل

موخه: خپل ماشوم وهڅوئ چې مصنوعي ځیرکتیا د خلکو د مرستې او د ستونزو د حل لپاره د یوې وسیلې په توګه تصور کړي. اړین توکي: کاغذ او پنسل، یا د رسم او یادښت لپاره ډیجیټلي اپلیکېشن.

**ګام په ګام:**

- له خپل ماشوم سره د یوې ریښتینې نړۍ د هغې ستونزې په اړه خبرې وکړئ چې هغه پرې پاملرنه لري (لکه د اقلیم بدلون، معلولیتونه، یا رواني روغتیا).
- وپوښتئ: "مصنوعي ځیرکتیا څنګه کولی شي په دې برخه کې مرسته وکړي؟"
- یو داسې محصول یا اپلیکېشن طرحه کړئ چې د مصنوعي ځیرکتیا څخه کار واخلي تر څو دغه ستونزه حل کړي.



**بحث وکړئ:**

- دا مصنوعي ځیرکتیا به کوم ډول معلوماتو ته اړتیا ولري؟
- که مصنوعي ځیرکتیا ښه روزل شوې نه وي، څه ستونزې رامنځته کېدای شي؟
- دا به د خلکو سره څنګه مرسته وکړي؟

**د خبرو ټکی:** مصنوعي ځیرکتیا کولی شي د لویو نظرونو ملاتړ وکړي، خو ورسره مسؤلیتونه هم راځي، او انسانان لا هم باید په دقت سره پریکړه وکړي چې دا څنګه وکارول شي.

# د کورنۍ ټکنالوژي پلان جوړونکي

## د کورنۍ ټکنالوژي پلان جوړونکی څه شی دی؟

د کامن سینس میډیا د کامن سینس میډیا (Common Sense Media) د کورنۍ ټکنالوژۍ پلان جوړونکی یو ساده او عملي لاربښود دی چې د کورنیو سره مرسته کوي تر څو د ماشومانو اړوند د مصنوعي ځیرکتیا باندي ولاړو وسایلو او وسیلو سره د تعامل لپاره سالمې لاربښوونې تنظیم کړي.



**دا پلان تاسو ته اجازه درکوي چې:**

پرېکړه وکړئ کوم د مصنوعي ځیراکت پر بنسټ وسایل او اپلیکېشنونه د کارولو لپاره مناسب دي (لکه غږیز مرستندویان، په YouTube Kids کې د سپارښتنې الګوریتمونه، تعلیمي اې آی (AI) اپونه، او چاټ بوټونه).



پر دې هوکړه وکړئ چې د مصنوعي ځیرکتیا وسایل چېرې او څه وخت کارېدلای شي (لکه د خوړو پر مهال یا د خوب وخت کې نه).

د مصنوعي ځیراکت پر بنسټ د ټیکنالوژۍ کارول له خلاقه لوبو، له کوره بهر وخت، او انساني اړیکو سره متوازني وساتئ.



ماشومانو ته یادونه وکړئ چې مصنوعي ځیرکتیا د پالونکو، ښوونکو یا ملګرو ځای نه شي نیولای.

تاسو کولی شئ دلته د عمر له مخې مناسب او د چاپ وړ د کورنۍ ټکنالوژۍ پلانونه وګورئ:
https://www.commonsensemedia.org family-tech-planners/

# لغاتونه

**مصنوعي ځيرکتيا ( AI ):** دا یو داسي پروګرام دی چې د انسانانو له خوا جوړ شوی وي او کمپيوټرونو ته دا توان ورکوي چې هغه کارونه ترسره کړي چې هوښيار یا ځيرک ښکاري، هماغسې لکه انسانان چې هوښيار دي.

**الګوريتم:** د قوانينو یا ګامونو یوه مجموعه ده چې کمپيوټر يې د ستونزې د حل یا د پرېکړې کولو لپاره تعقيبوي.

**تعصب:** هغه وخت چې د مصنوعي ځيرکتيا یو سيستم د ناانډولو یا نابرابر معلوماتو له امله ناعادلانه پرېکړې کوي.

**معلومات:** هغه معلومات چې مصنوعي ځيرکتيا يې د زده کړې لپاره کاروي — لکه کوم ويډيوګانې چې ګورئ یا کومې خبرې/کلمې چې واياست.

**توليدوونکې مصنوعي ځيرکتيا:** هغه ډول مصنوعي ځيرکتيا چې کولی شي انځورونه، موسيقي، کيسې او ورته نور شيان جوړ کړي.

**د ماشين زده کړه:** د مصنوعي ځيرکتيا هغه طريقه ده چې له لارې يې سيستم د معلوماتو څخه زده کړه کوي او د وخت په تېرېدو سره خپل فعاليت ښه کوي.

**د بڼې پېژندنه:** د مصنوعي ځيرکتيا وړتيا چې په معلوماتو کې ورته والی یا تمايلات وپېژني.

**د سپارښتنې پروګرام:** هغه سيستم چې ستاسو د چلند پر بنسټ هغه څه تنظيموي او درته وړانديز کوي چې تاسو يې ښايي وګورئ، لکه هغه ويډيوګانې چې ډېر امکان لري تاسو يې وګورئ.

# د مصنوعي ځيرکتيا د پوهاوي وسايل

## د کورنيو پياوړتيا ترڅو په ګډه مصنوعي ځيرکتيا وپلټي

### د مصنوعي ځيرکتيا د ورځې په اړه

د مصنوعي ځيرکتيا ورځ د MIT لخوا بنسټ ايښودل شوی نوښت دی چې موخه يې دا ده څو د وړکتون څخه تر 12 ټولګي زده‌کوونکو او ښوونکو سره مرسته وکړي چې د مصنوعي ځيرکتيا په دوره کې بريالي او پياوړي واوسي. وروسته دا نوښت په يوه خپلواک، غيرانتفاعي بنسټ بدل شو چې د MIT له څېړونکو سره همکاري کوي تر څو درسي مواد او مسلکي پرمختيايي پروګرامونه وړاندې کړي او زده‌کوونکو او ښوونکو ته دا توان ورکړي چې د مصنوعي ځيرکتيا د کار کولو طريقې او د هغې اخلاقي اغېزو په اړه خپله پوهه لا ژوره کړي. زموږ ماموريت دا دی چې ښوونکو ته هغه پوهه او وسايل برابر کړو چې مصنوعي ځيرکتيا په مسؤلانه توګه خپلو ټولګيو کې شامل کړي او د زده‌کوونکو په منځ کې انتقادي فکر او د مصنوعي ځيرکتيا سواد ته وده ورکړو.

نور معلومات په دې لينک کې ترلاسه کړئ: dayofai.org

### د Common Sense Media او Common Sense Education په اړه

Common Sense Media يو باور وړ غيرانتفاعي سازمان دی چې د څېړنو پر بنسټ ارزونې، منابع او لارښوونې وړاندې کوي تر څو کورنيو سره مرسته وکړي چې د رسنيو او ټکنالوژۍ په کارولو کې هوښيارې پرېکړې وکړي. د دوی کار والدينو، پالونکو او ښوونکو ته دا وړتيا ورکوي چې د ډيجيټل وسيلو او پليټ فارمونو په اړه باخبره پرېکړې وکړي، د هر عمر ماشومانو لپاره د ټيکنالوژۍ خوندي، اخلاقي او ټول شموله کارونې ته وده ورکړي.

نور معلومات په commonsensemedia.org کې وپلټئ